د افغانستان د ازاد اوعادلانه ټولټاکنو ټولنیزه موسسه
موسسه اجتماع انتخابات آزاد و عادلانه افغانستان
FEFA Free & Fair Election Forum of Afghanistan organization

# خبرپاڼه

**<u>۱۳۹۹ کال د چنګاښ ۲۹مه</u>**

**<u>د بېړني خپراوي لپاره</u>**

د افغانستان د ازادو او عادلانه ټاکنو موسسه (فیفا) د ډموکراټیکو پروسو د څارنې تر څنګ هڅه کوي چې په ولسواکو پروسو کې د ښځو او ځوانانو رول او ونډه زیاته شي. په همدې لړ کې فیفا د ۱۳۹۸ کال د ولسمشریزو ټاکنو د نوماندانو د پروګرامونو او ژمنو د اخیستو پروګرام پیل کړ چې په پایله کې یې د تېر کال د ولسمشریزو ټاکنو د نوماندانو ژمنې راټولې او په یوه ټولګه کې یې د «په راتلونکو پنځو کلونو کې د ښځو دریځ» په نامه چاپ کړې. د دغې ټولګې اساسي موخه په راتلونکې حکومت کې د ښځو دریځ تثبیتول او په مشرتابه کې د دوی شتون مشخصول دي. په دغه ټولګه کې د تېر کال ولسمشریزو ټاکنو هر نوماند د ښځو په اړه خپل پروګرامونه او موخې بیان کړي دي. کله چې د ښځو په برخه کې تېرو ۱۸ کلنو کړنو ته وکتل شي، نو د نوي نظام له جوړېدو وروسته تصمیم نیونو کې د ښځو د ګډون زیاتوالي او ونډې اخیستنې په برخه کې او ښځو ته د ټاکنیزو او انتصابي څوکیو سپارلو لپاره یو لړ هڅې شوي دي. د ښاغلي کرزي په دوره کې په مشرتابه کې د ښځو ګډون لپاره لار هواره شوه او د اداري اصلاحاتو کمېسیون د تېر کال راپور پر بنسټ د ملي یووالي په حکومت کې د مشرتابه په کچو د ښځو شتون ۲۵ سلنې ته رسېدلی دی. په همدې ډول، په ټاکنو کې د ښځو ونډه او ګډون د ډموکراسۍ بنسټیز کولو په برخه کې د دوی د هڅو ښکارندویي کوي. د نوي حکومت له رامنځته کېدو سره د نوې ادارې له مشرتابه څخه د ښځو تمې د دوی د ټاکنیزو کمپاینونو له مخې ډېرې وې. لکه څنګه چې د نوي حکومت د کار له پیل څخه څه دپاسه څلور میاشتې تېرېږي، خو له بده مرغه په دغه موده کې د حکومت کړنو د ښځو ښویني (خوشبیني) راکمه کړې ده. د لاندې کبلونو او نیمګړتیاو پر بنسټ:

۱- د ولسمشر محمد اشرف غني او د مصالحې عالي شورا مشر ډاکټر عبدالله عبدالله تر منځ د هوکړې سند کې له بده مرغه داسې کوم څرګند بند نشته چې د حکومتي څوکیو په وېش کې د ښځو عادلانه دریځ تضمین کړي. دغه چاره د دې لامل شوې چې د ښځو شتون په ۴ وزارتونو[1] بسنه وشي. سره له دې هم نارسمي خبرونه د افغانستان په کابینه کې د ۳ ښځو د شتون خبر ورکوي. پر دې بنسټ، موږ نه یوازې د څلور نوماند وزیرانو، بلکې د حکومت په کابینه کې د ښځو د لږ تر لږه ۳۰ سلنه شتون سهمیې غوښتونکي یو. زموږ دغه غوښتنه د تېر کال په ولسمشریزو ټاکنو کې د رایې اچوونکو په توګه د ښځو شتون او په ټاکنیزو کمپاینونو کې د سیاسي رهبرانو د ژمنو سره متناسبه ده.

۲- د افغانستان ښځې د ټولنیز عدالت د ټینګښت غوښتونکې دي او په کابینه او حکومتي څوکیو کې د ښځو ګومارلو او ونډې ورکولو په برخه کې له اساسي قانون سره سم د عادلانه چلند تمه لري. د سیمییز حکومت په کچه کې د والي مرستیالې په توګه د ۳۴ ښځو د ګومارلو لپاره د حکومت وروستی تصمیم د ستاینې وړ دی، خو حکومت د والي، ولسوالې او ښاروالې په توګه د ښځو د ګومارنې په هکله هېڅ روښانه تصمیم نه لري چې دا چاره د ښځو د اندېښنې او ان د تېرو دور په پرتله د په شا تګ لامل ګڼل کېږي. نو د فیفا د ښځو د سیاسي حقونو غوښتونکې ډله وړاندیز کوي چې په یوشمېر ولایتونو کې د کلتوري، دودیزو او امنیتي

[1] دغه شمېره د ۱۳۹۹ کال د غبرګولي په ۲۳مه د ولسمشر محمد اشرف غني په بیانیه کې وړاندې شوه.

ستونزو پر بنسټ ښځې د والي، ولسوالۍ او ښاروالۍ په توګه وګومارل شي. په ورته وخت کې د سیمییز حکومت په کچه د ښځو ګومارنه باید د وړتیا او د یوه روڼ او عادلانه تګلوري پر بنسټ وي، پرته له هغه حکومت په ټولنه کې د ښځو لیرې کولو بحث دودوي.

۳- د ټاکنیزو کمپاینونو پر مهال ښځو ته د ولسمشر او د مصالحې عالي شورا د مشر د ژمنو له مخې په کمي او کیفي توګه د ښځو اغېزناک شتون تضمین او د وزارتونو، سفارتونو، نړیوالو نمایندګیو، د مشرانو جرګې انتصابي غړو او سیمییز حکومت په کچه د ښځو د وړتیا او توان په پام کې نیولو سره د کاري خوندیتوب رامنځته کول دي. خو وروستۍ ګومارنې د یوه روڼ او عادلانه تګلوري له په پام کې نیولو پرته شوي او دغه چاره د زیاترو ښځو د اندېښنې لامل شوی دی. پر دې بنسټ، د حکومت له مشرانو څخه د ښځو غوښتنه دا ده چې د وړتیا اصل په پام کې ونیسي او د یوه مشخص او عادلانه تګلوري له مخې د هېواد په کچه نخبه ښځې په ګوته کړي چې په دې برخه کې د مدني ټولنې د بنسټونو، د ښځو ډلو او د ښځو د حقونو فعالینو همکاري ډېره اغېزه لرلی شي. د یادونې وړ ده چې د ښځو کاري خوندیتوب ته باید لومړیتوب ورکړل شي او له سرغړوونکو سره قانوني چلند وشي.

۴- د ولسمشر او د مصالحې د شورا د مشر د ژمنو پر بنسټ په هېواد کې په تېره بیا د ښځو چارو وزارت او د ادارو په کچه د جنډر مدیریتونو کې د ښځو د شتون د پراختیا او پرمختګ لپاره مشخص پروګرامونه او طرحې شته دي. خو له بده مرغه د نوي حکومت د عمر له څلورو میاشتو تېرېدو سره دغو جوړښتونو ته هېڅ بنسټیزه پاملرنه نه ده شوې. د ښځو چارو وزارت تر اوسه پالیسي جوړوونکی رول درلود او په زیاترو ادارو کې د جنډر مدیریتونه په تصمیم نیونو کې کوم رول نه لري. د حکومت له رهبرانو څخه د دوی د ژمنو له مخې غواړو چې د ښځو چارو وزارت د اجرایي رول او د جنډر ریاستونو باندې د جنډر مدیریتونو بدلولو په برخه کې جدي پاملرنه وکړي او د ادارو د جنډر ریاستونو په راس کې د پیاوړو ښځو ګومارل غواړو.

د یادونې وړ ده چې د فیفا موسسې د ښځو د سیاسي حقونو غوښتونکې ډلې د ولسمشر او د مصالحې عالي شورا د مشر ژمنې او پروګرامونه چې د کورنیو او نړیوالو قوانینو په پام کې نیولو سره د ښځو اساسي حقونه تضمینوي په لیکلې بڼه په لاس کې لري او په هره برخه کې به د دغو ژمنو د پلي کېدو لپاره خپله عدالت غوښتنه کوي.